(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| لومړی څپرکی: آریایان | ۱ |
| دڅپرکي موخې | ۲ |
| لومړی لوست: دآریانا تمدن | ۳-٤ |
| دوهم لوست: ویدی مدنیت | ۵-۷ |
| دریم لوست: اوستایی مدنیت | ۹-۱۰ |
| څلورم لوست: د لرغوني افغانستان اساطیري تاریخ | ۱۱-۱۲ |
| پنځم لوست: د لرغوني افغانستان اساطیری تاریخ | ۱۳-۱٤ |
| شپږم لوست: د لرغوني افغانستان اساطیری تاریخ | ۱۵-۱٦ |
| اوم لوست : لرغوني افغانستان هخامنشیان، یونانیان او موریایان | ۱۷-۱۸ |
| اتم لوست: لرغوني افغانستان او یونانیان | ۱۹-۲۲ |
| نهم لوست: لرغوني افغانستان او موریایان | ۲۳-۲٤ |
| دویم څپرکي : په افغانستان کې لومړني مدنیتونه | ۲۵ |
| دڅپرکي موخې: | ۲٦ |
| لسم لوست: د افغانستان لومړني مدنیتونه | ۲۷-۳۰ |
| یوولسم لوست: د یونانو باختري مدنیت ځانګړتیاوې | ۳۱-۳۲ |
| دولسم لوست: آي خانم د یونانو باختري پیربو نامتوربښار | ۳۳-۳٤ |
| دیارلسم لوست:د ساکهانواو پارتیانو د واکمنی پیر | ۳۵-۳٦ |
| څلوارلسم لوست: د کوشانیانوامپراتورۍ | ۳۷-٤۰ |
| پنځلسم لوست: د کوشاني مهال درې نامتومرکزونه | ٤۱-٤۲ |
| شپاړلسم لوست:هډه د کوشاني امپراتورۍ کلتوري پلازمینه | ٤۳-٤٤ |
| اولسم لوست : بامیان | ٤۵-٤۸ |
| اتلسم لوست : کیداریان یا کوچیني کوشانیان | ٤۹-۵۰ |
| نولسم لوست : د یفتلیانو امپراتوري | ۵۱-۵٤ |
| شلم لوست: داسلام د ظهور پرمهال د افغانستان وضع | ۵۵-۵٦ |
| دریم څپرکي: د نړۍ لرغوني تمدنونه | ۵۷ |
| د څپرکي موخې: | ۵۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ویشتم لوست : د تمدن د رامنځ ته کیدو څرنګوالی اوځانګړنې ........ ۵۹-۶۰
دوه ویشتم لوست :د بین النهرین تمدن ........ ۶۱-۶۴
درویشتم لوست : د بین النهرین تمدن او فرهنګ ........ ۶۵-۶۶
څلورویشتم لوست: د مصرتمدن ........ ۶۷-۷۰
پنځه ویشتم لوست: د مصرتمدن او فرهنګ ........ ۷۱-۷۴
شپږویشتم لوست : د فارس تمدن ........ ۷۵-۷۸
اوویشتم لوست : د هند تمدن ........ ۷۹-۸۲
اته ویشتم لوست: د چین تمدن ........ ۸۳-۸۶
نه ویشتم لوست : د یونان تمدن ........ ۸۷-۹۰
دیرشم لوست : د روم تمدن ........ ۹۱-۹۴
یودیرشم لوست :د امریکا تمدنونه ........ ۹۵-۹۸
څلورم څپرکې : د اسلام تاریخ ........ ۹۹
دڅپرکي موخې : ........ ۱۰۰
دو دیرشم لوست : د اسلام دمبین دین د راڅرګندیدا پرمهال دنړۍ اودعربستان دشبه جزیرې اوضاع ۱۰۱-۱۰۲
دری دیرشم لوست:د حضرت محمد(ص) ژوند له کوچنیوالي تربعثته پورې ........ ۱۰۳-۱۰۶
څلوردیرشم لوست : د عقبې ترونونه ........ ۱۰۷-۱۱۰
پنځه دیرشم لوست: غزوات ........ ۱۱۱-۱۱۸
شپږدیرشم لوست : د حدیبې سوله- بیعت الرضوان ........ ۱۱۹-۱۲۲
اوه دیرشم لوست :د مکې مکرمې فتح ........ ۱۲۳-۱۲۸
اته دیرشم لوست : راشدین خلفا ........ ۱۲۹-۱۳۲
نه دیرشم لوست : حضرت عمر فاروق (رض) ........ ۱۳۳-۱۳۴
څلورویشتم لوست : حضرت عثمان(رض) ........ ۱۳۵-۱۳۶
یوڅلورویشتم لوست : حضرت علی (رض) ........ ۱۳۷-۱۳۸
دوه څلورویشتم لوست : د راشدینو خلفاو وروښانه دورې ته لنډه کتنه ........ ۱۳۹- ۱۴۰
دری څلورویشتم لوست :امویان ........ ۱۴۱-۱۴۴
څورڅلورویشتم لوست : د امویانو په دوره کې اقتصادي، اداري، کلتوري اونظامي وضعیت ۱۴۵ - ۱۴۶
پنځه څلورویشتم لوست: عباسیان ........ ۱۴۷-۱۵۰
شپږڅلورویشتم لوست : د عباسي دورې سیاسي، اداري، کلتوري او نظامي اوضاع.. ۱۵۱- ۱۵۴

۱۰۸ مه وینا کې داسې ویل شوي دي: (لوی ویشتاسپ (گشتاسپ) د فرازادانا سیند پر شا او خوا سل آسونه، زر نرغوایان اوو لس زره پسونه د اناهیتا په نامه بلهاري کړل تر گشتاسپ وروسته د هغه زامن واک ته ورسېدل. له دې سره سره چې د زرې وري د واکمنی په اړه زیات معلومات نشته، خو د هغه د پهلوانی په اړه چې په سیستان کې اوسېده، زیات تاریخي روایات ویل شوي


په بلخ کې د نوبهار د اورتون د پاتې شونو یو انځور

دي. د گشتاسپ د بل زوي چې سپینتو داتا یا اسفندیار د واکمنی په اړه زیات معلومات شته. ویل کیږي چې اسفندیار زړور او هوښیار واکمن و. هغه د بلخ پر اورتون داسې نیزه ودروله چې معنا یې د خپلې سیمې څخه په میړانه دفاع او د پردیو مخنیوی و. دا مطلب یې په ټولو رسمي لیکونو کې خپلو گاونډیانو ته ورساوه او د خپلو سیمو لپاره یې د ودانیو زیاتې چارې تر سره کړې. د زردشتي ائین لپاره یې زیات خدمتونه وکړل او هغه ته یې تر خپلې ولکې لاندې سیمو کې وده ورکړه. د اسفندیار تر مړینې وروسته د اسپه کورنی واکمني پای ته ورسېدله.

## په ټولگي کې فعالیت

زده کونکي دې په دریو ډلو و وېشل شي. لومړۍ ډله دې د اسپه کورنۍ، دویمه ډله دې د لهراسپ او دریمه ډله دې د گشتاسپ په اړه خپل معلومات نورو ته واوروي.

## پوښتنې

۱ د اسپه کورنۍ ولې په دې نامه یاده شوې ده؟ خپل معلومات ولیکئ.
۲ – د اسپه کورنۍ لومړنی واکمن څه نومېده او په اړه یې څه معلومات لرئ؟ ویې لیکئ.
۳ – د اسپه کورنۍ ورستی واکمن څوک و؟ خپل معلومات ولیکئ.

## له ټولگي څخه بهر فعالیت

زده کونکي دې د لرغونو اورتونونو په اړه د بېلا بېلو رسنیو په مرسته نوي معلومات راټول کړي او په ټولگي کې دې نورو ټولگیوالو ته واوروي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

کورونه جوړ شوي وو. د ښار منځنۍ برخه چې ۳۰۰ متره په ۳۰۰ متره کې ساحه لري او د يو لوی انګړ په خير ځرګندېږي، په اصل کې د خپل وخت اداري مرکز او د چارواکو د واکمنۍ پلازمينه وه. دا لوی انګړ چې اوږد والې يې ۱۳۰ متره او سور يې ۱۸۰ متره ته رسېده، په مستطيل ډول جوړ شوی چې په څلورو خواوو کې يې ۱۱۶ ستونونه درلودل. همداشان يو ستر تالار، چې اوږدوالی يې ۲۷ متره او سور يې ۱۷ متره ته رسېدلې دی، د دې لويې حويلۍ په منځ کې ښکاري.

د آی خانم په محوطه کې دننه کورونو او خونو څخه زيات شمېر آثار او شواهد تر لاسه شوې چې د يونان- باختري مدنيت د برم نماينده ګي کوي. د بيلګې په توګه يو زيات شمېر هغه مسکوکات چې په هغه کې د يوناني ارباب الانواعو څېرې ليدل کيږي او يو شمېر داسې سکې هم ليدل کيږي چې يو ناني حکمرانانو (له سکندر څخه تر ايو کراتيد او هيلو کلس پوري) څېرې حک شوې دي. د مسکوکاتو تر څنګ يو شمېر مجسمې، کتيبې، ډول ډول لوښې، د سپورت وسايل، ورزشي ستديوم او زيات شمېر نور داسې آثار تر لاسه شوي دي. د نورو پاتې شونو تر څنګ يو ډېر ليک هم د لرغونپوهانو لاس ته ورغلی چې د کلير چوتس په نامه ياد شوی دی.

په نوموړي ډېر ليک کې ليکل شوي، چې په وړوکتوب کې ښه روزنه؛ په ځوانۍ کې پر ځان ويسا؛ په پاخه سن کې رښتينولي او سخاوت؛ په سپين ږيرتوب کې ښه سلا ورکول. بيا نو د مړينې په وخت افسوس مه کوه.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کونکي دې پر دوو ډلو و وېشل شي لومړۍ ډله دې د ای خانم نوم او بنسټ ايښودونکي او دويمه ډله دې له ای خانم څخه د تر لاسه شوي ډېرليک په اړه معلومات وړاندي کړي.

## پوښتنې

۱- د آی خانم د موقعيت او د نامه د معنا په اړه څه معلومات لرئ ؟ ويې ليکئ.
۲- له آی خانم څخه د کوم ډېر مسکوکات پيدا شوي دي؟ په اړه يې خپل معلومات وليکئ.
۳- د کلير چوتس په ډېرليک کې څه ليکل شويدي؟ ويې ليکئ.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کونکي دې له خپلو مشرانو او سپين ږيرو څخه د تخار ولايت او آی خانم په اړه معلومات تر لاسه کړي او په ټولګي کې دې و وايي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې فعالیت

زده کونکي دې په خپلو کې د ساکهانو او پارتیانو په اړه خبرې وکړي، له یو بل څخه دې پوښتنې وکړي او ځوابونه دې هم په خپله سره و ارزوي.

## پوښتنې

١ – د ساکهانو د واک لومړنی ټاټوبی چېرې و؟ په اړه یې خپل معلومات ولیکئ.

٢ – د ساکانو لومړنی واکمن څه نومېده ؟ په لنډه توګه یې راوپیژنئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کونکي دې له خپلو مشرانو څخه پوښتنې وکړي چې د سهاکو په نامه کلي پېژني او که نه. بیا دې هر یو خپل معلومات په ټولګي کې نورو ته واوروي.

د قوم مشر و. نوموړي په ۴۰ زیږدیز کال د پاچاهۍ اعلان وکړ او تر ۸۰ زیږدیز د لرغوني اریانا پر زیاتو سیمو پر له پسې ۴۰ کاله واک وچلېد. د خپلې واکمنۍ په وروستیو کې یې د شهنشاه لقب ځان ته غوره کړ.

د کجولا کدفیسیس تر مړینې وروسته د هغه زوی ویما تکتو د واک پر ګدۍ کېنیناست. د نوموړي په اړه زیات معلومات نشه لومړنی لاس وند د رباطک ډبرلیک دی چې ویما تکتو یې د کجولاکدفیسیس د زوی او د ویما کدفیسیس پلار لیکلی دی.

تر ویما تکتو وروسته دده زوی ویما کد فیسیس تر ۱۲۷ زیږدیز پورې واکمن و. ویما کدفیسیس د کوشانیانو لومړنی ټولواک و چې د هیواد حدودو ته یې په سوېل کې دګنګا تر سیند پورې پراختیا ورکړه. ویما کدفیسیس له چین هیواد سره دوستانه اړیکې درلودې. د روم امپراتور تراجان دربار ته یې یو سفیر ولیږه. له هغوی سره یې د سوداګرۍ او اقتصادي اړیکې ټنګې کړې. په دغه دوره کې د روم د سکې جوړولو هنري اغیز څرګند دی.

د کوشاني امپراتورۍ په اړه تر ټولو نوي معلومات د رباطک له ډبرلیکه تر لاسه شوي دي. دا ډبرلیک نابېره د بغلان او تخار ولایتونو تر منځ په یوه سیمه کې چې رباطک نومیږي، پیدا شو. له همدې امله یې د رباطک ډبرلیک په نامه یاد کړ. په دې ډبرلیک کې د کوشاني پېر په اړه داسې زیات نوي ټکي څرګند شوي دي، چې پخوا ناڅرګند وو. د بېلګې په توګه پخوا داسې منل شوې وه چې د کدفیزسانو کورنۍ بیله او د کنشکا کورنۍ بیله وه. په داسې حال کې چې د رباطک ډبرلیک دا خیال ناسم وښوده او ثابته شوه چې دا ټوله یوه کورنۍ وه. بله خورا مهمه خبره د کوشاني امپراتورۍ سویلي وروستیو بریدونو یا سرحدونو په اړه کره او نوي معلومات د همدې رباطک له ډبر لیکه تر لاسه شوې دي. د ډبرلیک تر لوستلو وروسته، چې د انګلیسي سیمس ویلم په زیار ولوستل شو، دا څرګنده شوه چې د کوشاني امپراتورۍ او په ځانګړې توګه د کنشکا د واکمنۍ پر مهال وروستی سویلي سرحدي ولایت سري چامپاي و.


د کنشکا د یوې سکې د یو مخ انځور

لوی کنشکا د ویما کدفیسیس زوی، د خپل پلار تر مړینې وروسته واک ته ورسېد. کنشکا د لرغوني افغانستان په تاریخ کې د ډېر واک خاوند او



(c) ketabton.com: The Digital Library

یادگار په موخه یوه ستنه جوړوله چې کاتون بلل کېده.

مایایانو د هنر او معمارۍ په برخه کې هم ډېر پرمختګ کړی و. هغوی داسې ستر اهرامونه ودان کړي و چې په سر کې یې عبادت ځایونو شتون درلود. د معمارۍ په برخه کې مایایانو له مصریانو سره ډېر ورته والی درلود.

مایایانو د بېلابېلو خدایانو لکه: د اور خدای، د اوربښت خدای، د لمر خدای او د هنر او سولې خدای عبادت کاوه او د هغوی د خوښۍ لپاره یې قرباني کولې. په نهمه مخزېږده پېړۍ کې د مکسیکو درې ته د خلکو نوې ډلې رانوتې او د مایایانو تمدن یې له منځه یوړ.

## د ازتک تمدن:

ازتکان د دولسمې زېږدیزې پېړۍ په شاو خوا کې په مکسیکو کې راښکاره شول. هغوی جګړه ییز وګړي وو او څه مهال وروسته د همدې سیمې واکمنان شول. ازتکانو یوه ستره امپراتورۍ رامنځته کړه چې پر ۳۸ ولایتونو وېشل شوې وه هره برخه یې د یو والي له لوري اداره کېده.

د ازتکانو پاچا به په عین وخت کې راهب هم وچې د اشرافو، او جنګیالیو د یوې شورا له لوري به ټاکل کېده. د ازتک ټولنه په جنګیالیو، سوداګرو او کسب ګرو وېشل شوې وه. هغوی د یوشمېر خدایانو لکه: د لمر خدای عبادت کاوه. هغوی د فلزاتو په ویلي کېدو او له هغوی څخه په کار اخیستنې پوهېدل.

د ازتکانو ژبه ناهوت وه چې تر دې مهاله یوه ژوندۍ ژبه ده او لیک یې انځوریز و. د ازتکانو مرکز د تینوش تیتلان ښار و، چې هغه مهال د مرکزي امریکا یو پرمختللی ښار و. په ۱۵۲۱ زېږدیز کې دغه امپراتوري د اسپانویانو له خوا پای ته ورسېده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

